نورمحمد غفوری ۲۰۱۰/۰۲/۰۹م

دا لیکنه تیر کال په افغانستان کې چاپ شوی ده. کیدای شي چې ځینې مطلبونه یې زاړه وی، خو اصلی منځپانګه یې زړه نه ښکاری او دادی یوځل بیا د ویبسایت له لاري درنو لوستونکو ته وړاندي کیږي:

# دهېواد سخت شرایط د افغانانو واحد عمل غواړی!

په اوسنیو شرایطو کي افغانستان په خورا ستونځمن حالت او افغانی ټولنه د خپلي تاریخي ودي د بهیر په خورا سخت او پیچلی پوړکي قرار لری. د دولت په موجودیت کي عملا د حاکمیت خلا موجوده ده. زموږ په کورنیو چارو کي د ګاونډیو او نورو خارجی هیوادونو او ځواکونوبربنډي لاس وهني ډیري پراخه دی. دي وضعیت نه یوازي د اوسنی سیاسی سیستم مخالفینو ته د جګړي او وسلو د کارولو بهاني په لاس ورکړي، بلکي دولتی مشران یي هم ناراضه او نامیده کړی دی.
د تیرو اتو کلو پیښو په ډاګه څرګنده کړه چي نه یوازي په افغانستان کي د نړیوالي ټولني په لاس او ملاتړ جوړشوئ دولت د افغانستان د بیارغوني او دموکراتیکو ریفورمونو په اجرا کي ناکامه پاته دی، بلکي پخپله «نړیواله ټولنه» هم زموږ ولس، خپلو ملتونواو په مجموعی ډول نړیوالو ته د ورکړل شوو وعدوپه تر سره کولو کي بریالی نشوه. په افغانستان باندي د امریکا او د هغو د مؤتلفو ملګرو د یوځی یرغل په درشل کي اعلان شوی هدفونه د دوی په قول د طالبانو د «بنیادګر او تروریستی» دولت له منځه وړل، د القاعدي او طالبانو د مشرانو- بن لادن او ملا محمد عمر - نیول، په افغانستان کي دولس له ارادي سره سم د دموکراتیک نظام ټینګول، د جګړي ځپلی او وران افغانستان بیارغونه او په دي جغرافیایی ټوټه کي د اوسیدونکو خلکو د ژوند د سطحي لوړول، د مخدره موادو د کرلو، لیږدولو، تولید او استعمال په ضدمبارزه او په هیواد او منطقه کي د تروریسم او تروریستی اعمالو مخنیوی ؤ. خو دادی تر اتو کلو زیار او ایثار وروسته یي هم د خپلو هدفونو په تر لاسه کولو کي غوڅ بریالیتوب نه دی تر لاسه کړی..
دامریکا او د هغو د ائتلاف د شریکانو د یوځي عملیاتوپه پایله کي د طالبانو حکومت را وپرځول شو، خو عملا د هغو په قطعی ماتي بریالیتوب ترلاسه نه شو. د القاعده او طالبانو رهبران یي ونه شوای نیولای. په هیواد کي سیاسی واک له طالبانو څخه واخیستل شو خو په بدل کي یي پیژندل شوو جګړه مارانو، د ملی او شخصی شتمنیو په وړاندي بي پرواکسانو، د فردی آزادیو ضد دیکتاتورانو، فناتیکو رادیکالانو او له غربي هېوادونو څخه را لیږل شوو بي تکیي او په تودو کي بي نفوذه بیروکراتانو ته وسپارل شو، چي ډیر یي د وطن او ولس د خدمت پرځای د خپلو جیبونو او بانکی حسابونو په ډکولو لګیا دی. د خارجی هېوادونو او ځواکونو د لاسوهنو، سازشونو او فرمایشونو په نتیجه کي رامنځته شوی دولت د افغانستان ملی ګټو ته د ربښتینو وفادارو کسانو څخه نه، بلکي د پردیو هېوادو د ګټود ساتندویانو له میخانیکي مجموعي څخه جوړ شو. د کوچنی اقلیت څخه جوړ شوی او له ولسی تودو څخه تجرید افغانی دولت په تیرو اتو کالونو کي په دي ونه توانیده چي په افغاني ټولنه کي حداقل مشروعیت تر لاسه کړی او د ټولني د اکثریت نظر ځان ته راواړوی. نه یوازي دا چي په عمل کي د ولس له خوښي سره سم دموکراتیک او مترقی نظام په هیواد کي رامنځته نه شو، بلکي امنیتی وضعه خرابه شوه. جنګ او جګړو شدت او پراختیا وموندله. د افرادو شخصی آزادی او مصئونیت تضمین نه دی. برمته نیول او په کوچنیانو باندي جنسی تعرضونه ډیر دی. هره ورځ په لسګونو وګړی په مختلفو پیښو کي په رنګارنګ سببونو له منځه ځي. ښوونځي سوځول کیږی او د زده کوونکو نجونو پرمخ تیزاب شیندل کیږی. ځان مرګي حملي ډیري شوی دی. لنده داچي د جرمو، جنحو او جنایتونو لړۍ ډېره چټکه پر مخ روانه ده.
په ډېرو ځایو کي د بیا رغوني پروسه ډیره پڅه ده. په ځینو ولایتونو کي یا دولتی ارګانونه د فعالیت قابلیت نه لری او یا هم له لویو ستونځو سره مخامخ دی. په هیواد کي ځیني دولتی مؤسسي، فارمونه فابریکي او نور اقتصادی او تولیدی تأسیسات د آزاد بازار پر آرونود خصوصی سکټور د فعالیت د ګړندی کیدو تر بهانه او نامه لاندي د خصوصی کیدو (پریواتیزاسیون) په پروسه کي معینو کسانو ته د کمو بیو په مقابل کي «ډالی» شوي. له ګمرکی عایداتو څخه د شخصی او ګروپي ناوړه ګټو اخیستنه دوام لری. د کورونو د بیو د لوړېدو په نتیجه کي د کورونو کرایي لوړي شوي. لنده داچي دخارجی ډیرو مرستو سره سره هم د غریبو او متوسطو ټولنیزو طبقو او قشرونو په ژوند کي د لید وړ ښه والی نه دی راغلی. د فقر او بدایي ترمنځ واټن ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو دی.
په افغانستان کي د مخدره موادو کرهنه، قاچاق، تولید او استعمال لا رواج لری. د افغانی کډوالو ستونځه، چي د افغاني ټولني تر مخ د پرتو غوره ستونځو څخه ګڼل کیږی، د حل پر ځای د پرسوب پر خوا روانه ده. داسي دولتی ځواک او ارګان نشته چي عملا د افرادو له فردی آزادی څخه دفاع وکړای شی. په هیواد کي لا تر اوسه داسي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

خپلواک، په بین المللی او ملی حقوقی نارمونو پوه او باورمند، څواکمن او واکمن قضایی ارګان نشته چې د بشری حقوقو په اړه د نړیوالو منل شوو نارمونو سره سمې پریکړی وکړی. امنیتی ځواک هم په داسې حالت کې نه دی چې د قضا لخوا د نیول شوو تصمیمونو پلی کیدل په سم ډول عملی کړی.
د داخلی او خارجی غرضداره ځواکونو په لمسون د افغانستان د لرغونو او وروڼو قومونو ترمنځ په مختلفو ذریعو بدبینۍ او دښمنۍ ته لمن وهل کیږی. د یوه دین او مذهب پیروان د نورو د لارویانو په وړاندې په رنګارنګ ډولونو تحریک او لمسول کیږی. د یوې ژبې ویونکی د نورو د ویونکو او د یوې خوا او محل اوسیدونکي د هیواد د نورو سیمو د اوسیدونکو په ضد تحریک او جنګ او جګړو ته هڅول کیږی. دولتی او حکومتی اداری د اختلاس او فساد په داسې ناروغۍ اخته دی، چې ساری یې په تاریخ کې نه لیدل کیږی. په ځینو ځایو کې دولتی انتظامی ځواکونه د امنیت د راوستلو پرځای د بې امنیوسبب ګرزی. لنډه دا چې د کابل د اوسنی دولت په شان کمزوری، بې کفایته او بې لیاقته، ضعیف، فاسد، د ملي منافعو په وړاندې بې پروا، له مسلکی پوهې څخه بې برخې اوپه برملا توګه د خارجی هیوادو د ګټو د ساتونکو افرادو څخه جوړشوی دولت به په غالب ګمان د هیواد په تاریخ کې نه وی تیر شوی.
په هیواد کې د ډیرو ګوندونو، سازمانو، ټولنو او مؤسسو له موجودیت سره سره د دولت په مخالف لوری او اپوزیسیون کې هم داسې سیاسی، اجتماعی جوړښت نشته چې د خارجي او نړیوالو ځواکونو په وړاندې په منطقی او سوله ایزه توګه د سالمو او منل شوو سیاسی او دیپلوماتیکو لارو د افغانستان له عامو ملی ګټو دفاع وکړای شی.
ددې ډار شته چې له افغانانو څخه پخپل مورنې ټاټوبی کې د پخپلې خوښې ژوند کولو آزادی واخیستل شی او د نورو د ژوند د طرز خاماو غیر ضروری پیښو او تقلید ته اړ ایستل شی.
افغانستان نن په نړیواله کچه د زبر ځواکونو ترمنځ د یوویشتمې پیړۍ د ستراتیژیکو ګټو د ترلاسه کولو له پاره د کشمکشونو او د سیمې د هېوادونو د سیالیو د دایرې په محراق بدل شوی دی. په نړیواله کچه دکلتورونو، ایدیولوژیو، مذهبونو او ادیانو ترمنځ د سیالیو، کړکیچونو او خونړیو جګړو د فیصله کولو میدان ګرځېدلې دی. په تاریخي لحاظ د نړۍ د ستر بین المللی ائتلاف له خوا د وسله والو ځواکونو د عملیاتو په ډګر اوښتی دی چې همدا اوس تقریبا د څلویښتو هیوادو له خوا، شاوخوا اویا زره وسله وال پوځ دلته پروت دی او د نورو د را لیږلو پلانونه هم شته. ټولو ته څرګنده ده چې دا پوځونه د نړۍ په خورا مدرنو او عصری وسلو سنبال دی. د فوق العاده لوژستیکی خدمتونو او د سوق الجیش له هر ډول آسانتیاوو برخمن دی. دا ځواکونه پریمانه پیسې، وسلې او وسیلې په لاس کې لری. دې حالاتو افغانستان د نړیوالو جاسوسی او استخباراتی شبکو په قوی مرکز اړولی او د مختلفو هیوادونو او ځواکونو ترمنځ د یو بل په وړاندې د چالونو او جالونو د جوړولو او غوړولو له پاره ډیر اغیزمن ډګر دی.
په داسې سختو حالاتو کې د هیواد د انفراسټروکټور رغونه او رامنځته کول، د وږی، ناچاره او جګړې ځپلی ولس د نس مړول، د ځان پټول، د سر د سیوری موندل، د هغو د سواد او ښوونې او روزنې شرایط برابرول، د روغتیا غم یې خوړل او ډیر داسې نور هغه غټ پرابلمونه دی، چې د افغانانو دمتحد فعالیت او د نړیوالو مرستندویانو ترمنځ د همغږۍ پرته یې حل کول ناشونی دی.
د افغان ولس تر مخ د پرتو لویو ستونځو حل د ټولو کسانو دنده ده، چې د افغانستان په نامه نومول شوې جغرافیایی سیمه کې استوګنه لری. هر هغه څوک چې په افغانستان کې ژوند کوی، که نر دی او که ښځې، که په هردین او مذهب عقیده من وی، که د هیواد په هر ګوټ کې ژوند کوی، که په هره ژبه خبرې کوی، که په هر اتنیکي ګروپ پورې تعلق ولری، که د هر ډول سیاسی مفکورې څښتن او که هر رهبر او ګوند ته کار کوی تر هرڅه لومړی دا دنده ور په غاړه ده چې د هیواد د پولو او د افغانانو د تاریخی ویاړونوساتنه او د اسلام د دین او مختلفو مذهبونو د پیروانو د دینی مناسکو د ادا د آزادۍ لپاره مبارزه وکړی. په افغانستان کې د افغانانو د پخپل زړه ژوند کولو واک، په سوله او امنیت کې د ټولو اوسیدونکو له پاره د ژوند د شرایطو برابرول او د ښځو او نرو له پاره د انسانی عزت او شرف خوندی کول د هرکس انسانی او وجدانی مسئولیت دی. د دولتي بودجې، د اشخاصو له خصوصی امکاناتو او د نړیوالې ټولنې له مرستو څخه د غلا، چور او چپاول مخنیوی، د ټولو اقتصادی ، ټولنیزو او کلتوری ظرفیتونو او امکاناتو اغیزمن او پر ځای کارول او د هیواد د بیا رغونې د پروسې چټکتیاد افغانستان د هر وګړی په ګټه دی . دا او ځینې نور هغه څه دی چې د هیواد د لوړو ملی ګټو په دایره کې قرار لری اوهیڅوک ور سره مخالفت نه شی کولای او باید ویې هم نکړی.
د افغانستان د دموکراتیزه کولو، امنیت، ثبات او بیارغونې په بهیر کې تر اوسه پورې د همدا لړو لاسته راوړنو ساتنه هم په اوسنۍ شېوه او د اوسنۍ واکمنۍ له توانه وتلی کار دی. که موږ افغانان، د وحدت او اتفاق په لورځانونه ونه خوځوو او په ګډه سره لازم تدبیرونه ونه نیسو، داسې خطر هم شته، چې دا اوسنۍ لاسته راوړنې موهم له لاسه ووځي، د ژوند شرایط مو تر دې هم سخت شی، بیرته په شا ولاړشو، په افغانی ټولنه کې انقطاب نور هم زیات شی او هېواد مو د تجزیې له ګواښ سره مخامخ شی.
د عامو وطنی او سترو ملی ګټو ساتنه یوازې د یوه او یابل قوم، محل او یا سیاسی او ایدیولوژیک ګروپ دنده نه ده، بلکې دا د ټول ملت او د هغو د هر وګړی ځنډ نه منونکې دندې او مسئولیتونه دی او باید په ګډه سره یې سرته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ورسوو. که کوم ځانګړی قوم، کومه سیمه، د کومې ځانګړې ژبې ویونکی، یو او یابل سیاسی ګوند او ټولنیز خوځښت د عامو ملی او سترو سراسری وطنی ګټو ساتنه د ځان انحصار او امتیاز وبولی، داسې فکر وکړی چې ددې چارو د اجرا توان او استعداد یوازې له هغه سره دی او نور ددې دندو اجراته پرې نږدی، دا به ډیره ستره تیروتنه، لویی غوښتنه او د نورو وطنوالو په وړاندې د بې باورۍ او تحقیر د تخم شیندنه وی. که په یوه او یابله بهانه یو او یا څو ژبنی، محلي، دینی، قومی او یا سیاسی او ټولنیز ګروپونه ځانونه په دې حساسه تاریخي لحظه کې ددې سترو تاریخی او حساسو ملی مسئلو له حل څخه باسی، هغه د کوم بل یوه او یا څونورو په غاړه وراچوی، دا به هم د هغوی له خوا د وطن او ملت په وړاندې ستره جفا او بې مسئولیتی وی. تر دې ستره ګناه به داوي، که په داسې حساسو شرایطو کې کوم اتنیکی، ژبنۍ، محلی او یا سیاسی ګروپ د عامو ملی او وطنی دندو له اجرا څخه ځانونه وباسی، هغه د بل محل ، قوم او سیاسی او مذهبی ډلې په غاړه ورواچوی او پخپله هم بیا له موقع څخه په استفاده د خپلو روا او یا ناروا محدودو ګروپی ګټو د ترلاسه کولو له پاره د هغوی په مقابل کې په مبارزه لاس پورې کړی.

د نړۍ، منطقې او زموږ د خپل هیواد د سیاسی، ټولنیز او امنیتي شرایطو پیچلتیا هر چاته روښانه ده. زموږ په هېواد، سیمه او چاپیریال کې د پدیدو او پروسو د ودې لوری ناڅرګند او تر زیاتې اندازې زموږ له واک او اختیاره وتلی دی. دا واقعیت باید و منو چې د نړۍ، سیمې او هیواد په دې مغلقو، سختو او وخت په وخت منقلبو شرایطو کې ددې پراخه، هر اړخیزو، سترو تاریخي او ملي چارو تر سره کول د یوې مشخصې ډلې او سازمان له وسه وتلی کاردی. هیڅ اتنیکی، ژبنۍ مذهبی او یا محلی ډله نه شی کولای چې په تنهایۍ سره ددې سترو تاریخي او ملی پرابلمونو د حل له عهدې څخه ووزی. دا د افغانستان د ټولو قومونو، ولایاتو، دیني او مذهبی کړیو، ګوندونو او ټولنیزو مدني سازمانونو ګډې هڅې او هاند غواړی. ددې سترو ملي او سراسری مغلقو پرابلمونو حل یوازې او یوازې د ټولو ملی ظرفیتونو او امکاناتو د په کار اچولو او له بین المللی مترقی او عدالت غوښتونکو هڅو او تلاشونو سره دهمغږۍ کولو له لارې امکان لری.

دا بیا پخپل نوبت د داسې ملی سیاسی ځواک موجودیت ته اړتیالری چې په داخل کې د افغاني ټولنې د مادی او معنوی ارزشونو د تاریخی ودې د قانونمندیو پر بنسټ د نړیوالې بشری ټولنې د تکامل او وړاندې تګ د عامو او اساسی قوانینوپه رڼاکې د افغانی منل شوو ارزښتونو د ساتلو سره یوځای د اوسنیو ملی ستونځو د حل له پاره مناسبه لار په نظری توګه ومونډلای شی او د هغو د پلی کولو له پاره اړوند ریزرفونه او امکانات په ګوته کړای شی. په دې صورت کې به له یوې خوا دا سراسری او دموکراتیک سیاسی ځواک وکولای شی چې د هیواد په دننه کې د ولسونو پراخې کتلې په خپل ځان پسې را کش کړی، او له بلې خوا به د نړیوالو ځواکونو له خوا د هیواد او منطقې په سیاسی او ټولنیزو پروسو کې د اغیزمن ځواک په حیث ومنل شی. په افغانی ټولنه کې به د خپل کمیت او ښه کیفیت پر بنسټ د لوړ ې اوتوریتې او اعتبار خاوندشی، د هېواد د ستونځو د حل له پاره به مناسبې لارې ومونډلای شی او دنیول شوو پربکړو د خلاق او معقول پلی کولو توان به ولری.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ